ډاکټر محب زغم
۲۰۲۳/۰۲/۰۸

کبۍ او مونوک

د زلمکیو له پاره داستان

سپین کب سر راپورته کړ. خپلو بچیو ته یې وویل: «اششششش، غلي شئ چې پاچا صاحب تېرېږي.»
د دوی له منځه راووت. د لارې په سر سیخ ودرېد. شاهپرونه یې کرار کرار رپول. سر یې ټیټ کړ. ویې ویل: «اسلام و علیکم پاچا صاحب!».
نور بچیان یې په یو بل پسې ځغاستل؛ خو مشرې لور یې سترګې ده ته نیولې وې.
پلار بېرته د تیرو منځ ته راغی، ویې ویل: کبۍ بچو! ودې لیدل، پاچا صاحب خورا لوی کب دی. ډېر زورور دی.
بیا یې په نورو اولادونو غږ وکړ: راځئ چې خبره مې پاتې وه.
د تورو او سپینو تیرو له منځه واړه واړه سپین کبان په منډه د پلار شاوخوا ته راټول شول. پلار غاړه تازه کړه، ویې ویل: هو، رښتیا څه مې درته ویل؟ دنیا چې ده، ډېره لویه ده. دا موږ چې په کې اوسېږو. چا یې بل سر نه دی لیدلی. چې څومره په کې وګرځې، پای ته به یې ونه رسېږې.
کبۍ پوښتنه وکړه: پلاره! دنیا څه ده؟ ته څومره په کې ګرځېدلی یې؟
پلار وویل: کبۍ ګلې! دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسېږو. زه ډېر نه یم ګرځېدلی. یوه ورځ نوی لمر راختلی و چې زه همداسې کښته خوا روان شوم. لمر ولوېد خو زه د دنیا پای ته ونه رسېدم. نیکه دې ډېر ګرځېدلی و. هغه به ویل چې دنیا ډېره لویه ده او په دنیا کې بیا موږ د خدای خاص مخلوقات یو. خدای پاک دا دنیا خاص زموږ له پاره پیدا کړې ده.
لور یې وویل: خو د چونګښې بچې وایې چې دوی خدای ته ډېر نژدې دي. وایې دا د دوی برکت دی چې ...
پلار د هغه په خبرو کې ورولوېد: ته د هغوی دا مرداره قواره وګوره او دا خبرې «خدای ته نژدې یو، خدای ته نژدې یو» دومره مفته ده. تا یې هغه مردار غږ اورېدلی: کورررررررر، کوررررررررر، کورررررررررر.
نورو کبانو کټ کټ وخندل؛ خو کبۍ غلې وه. وروسته یې وویل: خو دوی ته همدا غږ ښایسته ښکاري. هره ورځ چونګښې خپلو بچیو ته د سندرو ویلو درس ورکوي. هغه چونګۍ چې زما ملګرې دی، هغه وایې چې موږ د آواز د ښه کېدو تمرین کوو. ډېره خواري کوو چې آواز مو په سُر شي.
پلار یې په خبرو کې ورولوېد: کبۍ ګلې! ته ولې له چونګښو سره ګرځې؟ ما خو درته ویلي وو چې له هغوی سره مه ګرځه. چونګښې مرداري دي.
کبۍ وویل: پلاره! چونګښې چا پیدا کړي دي؟
پلار ځواب ورکړ: خدای پیدا کړي دي. هماغه خدای چې موږ یې پیدا کړي یو.
کبۍ پوښتنه وکړه: که چونګښې مرداري دي؛ نو خدای ولې پیدا کړي دي؟
پلار یې تندی تریو کړ، ویې ویل: ته څومره ډېرې خبرې کوې. ورځه خپل کار کوه.
کبۍ شاهپرونه ورپول. په اوبو کې ورو ورو روانه شوه. په ویاله کې اوبه په کراره بهېدې او د لمر رڼا د ویالې تل ته رسېدله. کبۍ د چونګښو د کور خوا ته ورغله. نارې یې کړې: چونګیه! وه چونګیه!
د چونګښې بچې راووت. لا یې له کبۍ سره ستړې مه شې نه وه کړې چې مور یې ورباندې غږ وکړ: چونګیه! خوار شې، ما درته نه وو ویلي چې له مردارو کبانو سره به نه ګرځې؟
چونګۍ وویل: ولې به مرداره وي؟ کبۍ زما ملګرې ده.
مور یې وویل: ښه! ته ودرېږه چې پلار ته دې ووایم. ته اوس راسره ژبه هم وهې؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کبې او چونګی لاړل. په رنو اوبو کې یې د سپینو شګو له پاسه مزل وکړ. سپینې شګې د لمر رڼا ته داسې ځلېدې لکه سپین زر. د ویالې په تل کې د ښویو تیږو په منځ کې رقم رقم کبان سره پنډ وو. چېرته سپین کبان، چېرته طلایي کبان، یو ځای کې تور کبان او بل ځای کې برګ کبان. د ویالې دواړو غاړو ته شنه واښه ولاړ وو. د توت او چنار ونې د ویالې په دواړو غاړو کې ولاړې وې. د ونو په څانګو کې مرغیو ځالې جوړې کړې وې. مرغیو سندرې ویلې. چونګی ورته غوږ و.

کبې ته یې وویل: وګوره! ښومره ښکلې آوازونه یې دي. ښومره په سُر سندرې وایي.

کبې پوښتنه وکړه: ها بله ورځ دې هم د سُر خبره وکړه، دا سُر څه مانا؟

چونګي وویل: نه پوهېږم څه رقم یې درته ووایم. تاسې خو سندرې نه وایئ چې په سُر پوه شې. خو ګوره، تاسې چې په اوبو کې لامبو وهئ، شاهېرونه او لکی مو ښومره منظم ښوروئ. کنه؟ که کوم کب داسې زانګې وانګې ګډ وډ روان وي، څنګه درته ښکاري؟

کبې وویل: مورِ ته یا لیونی ښکاري یا بې ادبه.

په همدې وخت کې د یوه بزګر غږ راغی چې سندره یې ویله: ښوووووک په رضا له مُلـ که نه ځي. او نه ځي کنه...

چونګي وویل: ورته غوږ شه. دغه سړی بې سُره سندره وایي. دومره اوږد «ښوووووک» وایي چې سُر خرابوي. بیا «مُلکه» په منځ کې نیموي، وایي «مُل که» دلته هم سُر خرابېږي.

کبې وویل: راځه چې همدلته یو څو شیبې خبرې وکړو.

د ویالې څنډې ته ورغلل. چونګی وچې ته ور ټوپ کړ. کبې د اوبو پر سر ورته ودرېده.

دواړه خپه وو. پر یو بل ګران وو سره. نه یې غوښتل چې خپله ملګرتیا وشلوي. خو میندو پلرونو یې نه پرېښودل چې سره یو ځای اوسي.

کبې وویل: راځه چې له دې ځایه لاړ شو.

چونګي پوښتنه وکړه: چېرته؟

کبې وویل: دنیا خو لویه ده. یو بل ځای ته به سره لاړ شو. داسې ځای ته چې ښوک مو د ملګرتیا مخه ونه نیسي. بله خبره دا ده چې غواړم پوهه شم چې په دنیا کې ښوک غوره دي؟

چونګي وویل: زما مور خو وایي چې موږ غوره یو. خدای ښکلی آواز راکړی. ښایسته رنګ یې راکړی. وګوره! په دې شنه رنګ کې ښومره ښه ښکارېږو.

کبې وویل: زما پلار بیا وایي چې دا موږ سپین کبان غوره یو. هغه وایي چې خدای دا دنیا خاص زموږ له پاره جوړه کړې ده. نو اوس د چا ومنو؟ زړه مې راته وایي چې تر لرې لرې ځایونو سفر وکړم. پوښتنې وکړم او ځان ته دا معلومه کړم چې ښوک په رښتیا غوره دي.

چونګی زړه نازړه و. سفر ورته سخت ښکارېده خو د کبې خاطر ورباندې ګران و. نو ورسره ویې منله. دواړه روان شول. یو څه مزل یې وکړ. زرین کب په مخه ورغی. زرین کب په ناز او نخرو په اوبو کې ګرځېده. طلایي رنګ یې د لمر وړانګو ته ځلېده، ځل بل، ځل بل، ځل بل.

کبې ورته سلام وکړ. زرین کب وویل: ته ښوک یې چې ما ته سلام کوې؟

کبې وویل: زه کبې یم. د ویالې په هاغه سر کې مو کور دی. زه او ته له یوه ذاته یو. دواړه کبان یو کنه.

زرین کب وویل: غلې شه! ته ځان ته په هېنداره کې وګوره، بیا دا خبره وکړه. زه ښومره ښکلی یم. د سرو زرو په شان ځلېږم خو ته سپېره یې، سپینه یې. ته زموږ له ذاته نه یې. موږ خدای ښایسته جوړ کړي یو ځکه چې ورباندې ګران یو.

د کبې سر ټیټ شو.

چونګي هغه تر لاس ونیوه. ویې ویل: راځه ګرانې! مه خپه کېږه. دی بې ادبه دی. رنګ یې ښکلی دی خو خبرې یې بدرنګې دي.

بیا سره روان شول. اوږده لاره یې ووهله. ډېره اوږده، بیخي ډېره اوږده لاره. د خالداره کبانو په کلا ورپېښ شول.

کبې وویل: راځه چې دلته کېنو. دمه به مو جوړه کړو.

دې وخت کې د کلا له منځه د یوه خالداره کب غږ راغی چې ویل یې: موږ باید نور کبان خپلې کلا ته نژدې پرې نه ږدو. موږ د خدای غوره مخلوقات یو. تر ټولو کبانو ښکلي یو. خدای پاک په خالونو ښایسته کړي یو. ښه وطن یې راکړی. دا دنیا زموږ له پاره ده.

دې وخت کې یو خالداره کب له کلا څخه راووت. کبې او چونګی یې ولیدل. غږ یې ورباندې وکړ: ای! تاسې دلته څه غواړئ؟

کبې وویل: هېڅ. ستومانه وو. دلته دمه کوو.

خالداره کب وویل: ځئ! ورک شئ له دې ځایه.

د خالداره کبانو مشر له کلا راووت. پوښتنه یې وکړه: دلته څه شور ما شور دی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چونګي وويل: دا څه حال دی؟ سپین کبان وايي چې موږ د خدای غوره مخلوقات یو. زرین کبان وايي چې موږ پر خدای ډېر ګران یو ځکه خو یې د سرو زرو رنګ راکړی دی. تاسي وایئ چي خدای په خالونو ښکلي کړي یو؛ نو ځکه تر ټولو غوره یو. زما پلار بیا وايي چې چونګښي د خدای اصیل مخلوقات دي. موږ د چا ومنو؟ څوک رښتیا وايي، څوک دروغ؟
د خالداره کبانو مشر وویل: ښکاره خبره ده چې موږ رښتیا وایو. نور ټول هسې لګیا دي. ځئ! له دې ځایه ورک شئ!
ورو ورو تیاره خپره شوه. کبې او چونګي لړ مزل وکړ. بیا کبې وویل: خوښه دي نه ده چې ویده شو او سهار بېرته مزل وکړو؟
چونګي وویل: کبې ګلي! زما د زړه خبره دي وکړه. ستړی یم. نن ډېر وګرځېدو. بس نو، شپه دې په خير.
کبې وویل: تا ته هم ښه شپه، ښکلي خوبونه.
کبې د اوبو په تل کې د یوې ډبرې شا ته پټه شوه. چونګی وچې ته ورټوپ کړ. تر یو وخته پورې یې د شپې سندرې وبللې: کوررررر، کوررررر، کوررررر. دا سندره خوب وروسته. لکه مور چې ماشوم ته للو للو سندره وایي او ماشوم ته یې خوب ورځي.
سهار شو. د لمر پستي وړانګي د چونګي پر سترګو ولګېدې. د چوغکو ښکلي سندرې یې په غوږو ننوتې. چونګی راویښ شو. خوله یې ښه خلاصه کړه، اررمی یې وایست. بیا یې لاسونه پورته خوا اوږده کړل. ورو ورو یې دې خوا ها خوا ټوپونه ووهل. خوب داسي ګنګس کړی و چې نه پوهېده دلته څنګه راغلی او ولې راغلی دی. چارچاپېره یې حیران حیران کتل. په دې وخت کې کبې هم راویښه شوه. د اوبو سر ته راغله. پر چونګي باندې یې غږ وکړ: سهار دې په خیر چونګیه!
چونګي ته هر څه وریاد شول. په موسکا یې وویل: ستا سهار دې هم په خير وي. شپه دې څنګه وه؟ ښه خوب دې وکړ؟
کبې ځواب ورکړ: مننه ملګریه. داسي په درانه خوب ویده شوې وم چې هېڅ پوهه نه شوم چې شپه څنګه تېره شوه. ستا شپه څنګه وه؟ ښه خوب دې وکړ؟
چونګي وخندل: هاهاها. پوښتنه مه کوه. خوب داسي ګنګس کړی وم چې هر څه را نه هېر وو.
. چې پاڅېدل بیا یې مزل پیل کړ. ښه ډېر مزل، بیخي ډېر مزل. په لاره کې به هر چېرته هماغه خبرې وې. تور کبان، سره کبان، برګ کبان، غټې چونګښې، وړې چونګښې، چنګاښان، هر څوک لګیا وو چې موږ غوره یو. موږ ښایسته یو. موږ بې جوړې یو. موږ د خدای خاص مخلوقات یو. دنیا زموږ ده.
چونګي او کبې تلل، تلل، تلل. داسي ځای ته ورسېدل چې ویاله په سیند کې ګډېده. دوی هم په سیند ورګډ شول. د سیند اوبه ډېرې وې. د سیند اوبه تېزې وې. دومره تېزې چې چونګی یې لرې یووړ. کبې ژر ژر لکی وښوروله او ځان یې ورپسي ورساوه.
چونګي وچې ته ورټوپ کړ. ویې ویل: کبې ګلي! زه خو نور مخ ته نه ځم. اوبه تېزې دي. ساه مي په کې ډوبېږي.
کبې وویل: مه دارېږه. ورو ورو به ورسره بلد شې.
دې وخت کې یو لوی کب راښکاره شو. ډېر لوی کب، بیخي ډېر لوی. دومره لوی چې لس کبې ورنه جوړېدې. یوازې د هغه سترګه د کبې د سر په اندازه غټه وه.
کبې له وېرې ځنګ ته شوه.
لوی کب وویل: مه دارېږه! زه واړه کبان نه خورم. خو دا راته ووایئ چې تاسي دلته څه کوئ؟
کبې وویل: موږ له هاغه ویالې څخه راغلي یو. هلته هر څوک لګیا دی، یو وايي چې موږ تر ټولو ښه یو. بل وايي موږ د خدای غوره مخلوقات یو. بل وايي ...
لوی کب د کبې خبرې پرې کړې. ويې خندل: هاهاهاها. دا خبره خو باید زه وکړم. ځکه چې لوی یم، غښتلی یم، اوږده مزلونه وهلی شم. نور هسې چټي لګیا دي. دا دی، زه یې درته وایم. تر ټولو غوره زه یم. زموږ ذات غوره دی. که تا غوندې کب ته په خپل شاهیر دیکه ورکړم، ایسته به غورځېږي. نو ته ووایه چې غوره یم که نه؟
ناڅاپه له لاندې یو شی پورته خوا ته وخوځېد. کبې او لوی کب له اوبو بېل شول. هوا ته پورته شول. دا د کب نیوونکي جال و چې کبې او لوی کبان په کې راګیر شوي وو. ډېر نور کبان هم په جال کې بند وو. کبې لاندې وه، لوی کبان د پاسه. د کبې ساه ډوبه شوه. لکۍ یې ژر ژر وښوروله. کبانو پورته خوا زور وکړ. کبې وړه وه، د جال له یوې خانې ووته. بېرته لاندې اوبو ته ولوېده خو لوی کبان په جال کې بند پاتې شول.
کبې له وېرې د یوې ډبرې شا ته پټه شوه. زړه یې درېده. خوله یې وچه شوې وه.
چونګي ځان ورورساوه. ويې ویل: ګوره! دلته خطرونه زیات دي. راځه چې بېرته لاړ شو.
کبې وویل: وګوره! لوی کبان په جال کې بند پاتې شول. زه په دې پوهه شوم چې که څوک غټ وي، هغه خامخا غوره نه وي. اوس چې راغلي یو، غواړم ښه وګرځم. باید دنیا وپېژنم. باید پوه شم چې څوک غوره دي؟ که ته راسره ځې خو خوشحاله به شم. که نه راسره ځې نو تا په خدای سپارم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خير و لولئ

چونګي وویل: زړه مي غواړي درسره لاړ شم. دا راته ښه نه ایسېږي چې تا یوازې پرېږدم خو څه وکړم، دا مي په وس کې نه دی.
کبی موسکی شوه، ورته ویې ویل: یاري د زور خبره نه ده. زه به درپسي خپه شمه خو که ژوند و، بیا به سره وګورو. اوس نو د دوړاو دي خدای مل شي.
کبی له چونګي سره خدای پاماني وکړه او د سیند له اوبو سره چټکه روانه شوه.
چونګي ناره کړه: د ځان خیال به ساتې!
کبی مخ وروا ړاوه. شهپر یې ورته وخوځاوه او بېرته روانه شوه.
کبی په سیند کې رنګ رنګ لوی او واړه کبان ولیدل. د هر چا خبره همدا وه چې «موږ تر نورو ښه یو.»
چې څومره مخته تله، هماغومره یې د کبانو او نورو ژوو نوي نوي ډولونه په مخه ورتلل.
ډېر مزل یې وکړ، ډېر زیات، بیخي ډېر زیات مزل یې وکړ. کبی سخته وږې شوې وه. ها خوا دې په خوراک پسې کتل. د ډوډۍ یوه وړه ټوټه یې ولیده چې په اوبو کې ولاړه ده. خولې یې ورته اوبه وکړې. ورنژدې شوه. لا یې خوله نه وه خلاصه کړې چې چا پورې ووهله. ګوري چې یو برېتور کب یې تر څنګ ولاړ دی. وربوز یې تر نورو کبانو اوږد و. د خولې په دواړوو خواوو کې یې اوږده برېتونه وو. کبی ورنه ووېرېده.
برېتور کب وویل: وه کم عقلې! له ما مه ډارېږه، له چنګک څخه ووېرېږه. نژدې نیولې یې وې.
کبی په حیرانی وویل: چنګک نو څه ته دی؟
برېتور کب وویل: د ډوډۍ هغه ټوټه چې تا ورته خوله خلاصه کړې وه، د کب نیوونکي په چنګک پورې نښتې وه. که دې خوړلې وای، چنګک به دې په تالو کې ښخ شوی و. اوس به د کب نیوونکي په لاسونو کې وې.
کبی وویل: خیر یوسې چې زه دې وژغورلم.
برېتور کب وویل: ته دې هم خیر یوسې. خو په دې سیند کې مې داسې کب نه و لیدلی. ته له کومې راغلې یې او چېرته روانه یې؟
کبی ورته کیسه وکړه چې زه خو له یوې ویالې څخه راغلې یم او غواړم پوه شم چې په دنیا کې څوک تر نورو غوره دي.
برېتور کب وخندل: هاهاهاها! عجبه لېونی یې. ښه نو غوره مخلوقات دې پیدا کړل؟
کبی سر وخوځاوه: نه. تر اوسه مې نه دي پیدا کړي. هر څوک وایې چې زه غوره یم، زه غوره یم، خو زه چې ورته ګورم یو کمی په کې وي. هر چا ته د نورو عیبونه معلوم وي خو د ځان عیب نه وي ورمعلوم. رښتیا یې ویلي دي چې خپل عیب د ولي منځ دی. لړ ها خوا ته یو غټ کب و. هغه ویل چې زه غوره یم، ځکه چې غټ یم، قوي یم، زورور یم. خو ما ولیدل چې څنګه د کب نیوونکي په جال کې راګیر شو. هغه تر ما ډېر قوي و خو زه چې وړوکې یم، د کب نیوونکي له جاله راووتم. زه پوهه شوم چې څوک یوازې په غټوالي او قویتوب غوره کېدای نه شي. نو تر اوسه پورې مې داسې څوک و نه موندل چې په رښتیا هم تر ټولو غوره وي.
برېتور کب وویل: په رښتیا چې کم عقله یې. غوره مخلوق دې مخې ته ولاړ دی او ته وایې چې پیدا مې نه کړ.
برېتور کب خپل برېتونه په غرور کاږه کړل. ویې ویل: غوره هغه څوک دی چې هوښیار وي، هوښیار. غوره خو زه یم چې د کب نیوونکي چلونه رامعلوم دي. نه مې په جال کې نیولی شي، نه په چنګک. پوهه شوې که نه؟
کبی خبرو ته خوله جوړوله چې ناڅاپه غرمبهار شو. ټپه تیاره شوه. ډېرې خړې اوبه داسې په تېزۍ سره راغلې چې هر څه یې سره ګډ وډ کړل. کبی په منډه د سیند غاړې ته تېر شو. د سیند په غاړه کې یې د یوې ونې لویه وله ولیده. د ولې مخې ته وغځېده او ځان یې ورپورې کلک ونښلاوه.
ډېره موده تېره شوه. د اوبو غرمبهار کم شو. اوبه ورو ورو رڼې شوې. د لمر رڼا ښکاره شوه. کبی نور هم صبر وکړ چې خطر لرې شي. وروسته په کراره د سیند سر ته راووته چې وګورې خوا و شا څه کیسه ده. که ګوري چې برېتور کب په خړو ختو کې د سیند په غاړه مړ پروت دی. د برېتور کب برېتونه نور نه خوځېدل. نیم بدن یې تر ختو لاندې او نیم د ختو له پاسه و. په سیند کې سېل راغلی و. اوبه دومره ډېرې شوې وې چې د سیند د غاړې ځمکو ته بهېدلې وې. اوبو له ځانه سره خلې، خشاک، لرګي، او نور شیان راوړي وو. د اوبو له جوپې سره ځینې کبان د سیند څنډو ته ګوزار شوي وو.
کبی له ځانه سره فکر وکړ چې: خوارکی برېتور کب هوښیار و. د کب نیوونکي چنګک نه شو نیولی خو سېل ته یې فکر نه و کړی.
کبی هم وږې وه، هم خواشینې، هم ترهېدلې. سېکه یې په ختمېدو وه. ورو ورو وخوځېده. د سیند اوبه وار په وار سره رڼې کېدلې خو لمر په ډوبېدو و. یو څه مزل یې وکړ. ویې لیدل چې د سیند له دېواله سره ګڼ کبان راټول دي. ورغله چې وګورې څه خبره ده. اوبو یو غټه پېړه ډوډۍ راوړې وه. ډوډۍ داسې وه لکه غټه خښته. ډېر کبان ورپورې نښتي وو او خپل نسونه یې مړول. کبی هم ورغله. دومره ډوډۍ یې وخوړه چې خېټه یې وپړسېده. ځان ورته دروند ښکاره شو. د تلو حوصله نه وه ورپاتې. سترې وه او هوا هم تیاره شوې وه، لمر لوېدلی و. کراره د اوبو تل ته ورکښته شوه. د غټو ګردو سپینو تیږو په منځ کې یې ځان ځای کړ. دومره سترې وه چې وار له واره خوب یووړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کبې خوب دروند و، ډېر درووند، دومره درووند چې هېڅ په ځان پوه نه وه. یو وخت یې سترګې پرانیستې، که ګوري چې هر څه بدل دي. سپینې، شنې او زرغونې رڼاګانې یې پر سترګو لګېدې. خوا و شا ته یې اوبه رڼې وې، ډېرې رڼې، دومره رڼې چې دې هېڅکله نه وې لیدلې. د اوبو په تل کې سپینې وړې تیږې ښکارېدې. کبې شهپرونه وښورول. ورو ورو وخوځېده. له پاسه چا ورغږ کړل: بختورې! راویښه شوې. څومره درووند خوب دې و.

کبې پورته وکتل. یو خړ پړ کب یې ولید. داسې کب یې پخوا نه و لیدلی. دغه کب نرۍ خو اوږد و. رنګ یې داسې و لکه خاورې او ایرې چې سره ګډ کړې. سترګې یې وړې وې او خوله یې د مخ په نسبت غټه. کبې پوښتنه وکړه: ته څوک یې؟

هغه وویل: بهتره ده دا وپوښتې چې موږ چېرته یو؟

کبې په حیرانۍ سره خوا و شا ته وکتل، ویې ویل: امممممم، دې پوښتنې ته اړتیا نشته. په سیند کې به یو. زه هاغلته خوب وړې ومه.

په شهپر سره یې د اوبو په تل کې سپینو تیږو ته اشاره وکړه. بیا یې وویل: زه چې ویده کېدم، اوبه لږ څه خړې وې خو اوس یو مخ رڼې شوې دي.

دغه بل کب ورته وویل: یو وار یې ښه په ځیر سره وګوره! دا هماغه ځای دی چې ته په کې ویده وې؟

کبې یو وار بیا سترګې وغړولې. پوهه شوه چې تېر وتې ده. دلته هر څه بدل وو. په دې وخت کې غنچا شوه. د کوتې ور خلاص شو. دوه انسانان د دوی خوا ته راغلل. سپینې چپنې یې اغوستې وې. خولې او پوزې یې په ماسک پوښلې وې. د یوه پر سترګو پیړې ښیښې وې. عینکو والا بل کس ته وویل: وګوره! سپین کب راویښ شوی دی.

کبې په زړه کې وویل، دوی لا په دې نه پوهېږي چې زه کب نه یم، کبه یم.

یوه سړي په څه شي لاس وواهه. د اوبو له یوې څنډې د هوا پوکڼۍ په اوبو کې ګډې شوې. بل سړي د ړدن غوندې وړې دانې په اوبو کې ورخوشې کړې. سړي بېرته لاړل.

کبې حیرت اخیستې وه چې دا کوم ځای دی.

بل کب ورته وویل: اوس پوهه شوې؟ موږ په لابراتوار کې یو. انسانانو دلته راوړي یو چې راباندې څېړنه وکړي. زما نوم مونوک دی. زه د مدیترانې اوسېدونکی یم او ته؟

کبې وویل: زه، زه د ویالې اوسېدونکې یمه. نوم مې کبې دی.

مونوک وخندل: هاهاها! وه کبې ګلې! ویالې خو ډېرې دي، بېخي ډېرې، دومره ډېرې چې څوک یې په حساب هم نه پوهېږي. نو ته د کومې ویالې یې؟

کبې وویل: هاغه د سیند په بر سر کې چې ده.

مونوک وویل: د کوم سیند؟

کبې حیرانه وه چې څه ووايي. دې خو هماغه یوه ویاله او یو سیند پېژانده. دې ګومان کاوه چې دنیا هماغه ده چې دوی په کې وو، چونګښې په کې وې، هاغه غټ کب په کې و چې بیا کب نیوونکي ونیو، هاغه برېتور کب و چې بیا سېلاب مړ کړ، ... کبې ته ورپاده شوه چې پلار یې ویل: «دنیا ډېره لویه ده. کبې ګلې! دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسېږو. زه ډېر نه یم ګرځېدلی. یوه ورځ نوی لمر راختلی و چې زه همداسې کښته خوا روان شوم. لمر ولوېد خو زه د دنیا پای ته ونه رسېدم. نیکه دې ډېر ګرځېدلی و. هغه به ویل چې دنیا ډېره لویه ده او په دنیا کې بیا موږ د خدای خاص مخلوقات یو. خدای پاک دا دنیا خاص زموږ له پاره پیدا کړې ده.»

د مونوک غږ له چورته راوایسته. هغه وویل: کبې جانې! په دنیا کې ډېر سیندونه دي، سمندرګي دي، سمندرونه دي، جهیلونه دي، خلیجونه دي. تاسو په جغرافیه کې دا شیان نه دي لوستي؟

کبې په حیرانۍ وویل: جغرافیه؟ هغه څه شی دی؟

مونوک ځواب ورکړ: جغرافیه، یو مضمون دی. په مکتب کې لوستل کېږي کنه.

کبې لا د مکتب په معنا هم نه پوهېده. ځکه چې د دوی په ویاله کې د کبانو مکتبونه نه وو. هلته چا درس نه وایه.

کبې ته بیا د پلار خبره ورپاده شوه چې ویل یې: «دنیا همدغه ویاله ده چې موږ په کې اوسېږو. زه ډېر نه یم ګرځېدلی. یوه ورځ نوی لمر راختلی و چې زه همداسې کښته خوا روان شوم. لمر ولوېد خو زه د دنیا پای ته ونه رسېدم.»

خو مونوک بیا ویل چې په دنیا کې ډېرې ویالې دي، ډېر سیندونه دي، سمندرګي او سمندرونه دي. کبې حیرانه وه چې دا به څه رقم ځایونه وي.

مونوک یوه ورو دیکه ورکړه، ویې ویل: څه چورت وهې؟

کبې غلې وه.

دوی په یوه لابراتوار کې وو. مونوک او کبې په یوه لوی ښیښه‌یي صندوق کې وو. ښیښه‌یي صندوق د مېز پر سر و. شا و خوا ته نور مېزونه ایښي وو او د مېزونو پر سر همداسې ښیښه‌یي صندوقونه. په صندوقونو کې ډول ډول کبان او نور سمندري ژوي وو. انسانانو دا سمندري ژوي راوړي وو چې مطالعه یې کړي او خپل معلومات زیات کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کبې په حیرانو سترګو هر څه ته کتل. داسي کبان يې پخوا نه وو ليدلي. دوی ته نژدې په يوه صندوق کي يو ښايسته شی و. رنګ يې نيلي و. د پراشوټ يا ګردې خولۍ غوندې يې بڼه وه. چارچاپېره يې د تارونو غوندې ريتاړې ځوړندې وې. ورو ورو په اوبو کي کښته پورته تله او ريتاړې يې خوځېدې.
کبې ورته په ځير کتل.
مونوک ورته وويل: فکر کوم، جيلي کب به دې پخوا نه وي ليدلی.
کبې وويل: د دې نوم جيلي کب دی؟
مونوک ځواب ورکړ: هو. ځيني يې قنديل هم بولي. قنديل د څراغونو ښايسته ګېډۍ وي چي له رنو ښيښو جوړ شوي وي. جيلي کب په سمندرونو کي وي. دي ښايسته خو خطرناک.
کبې وويل: خطرناک؟
مونوک ورغبرګه کړه: هو، ډېر خطرناک. دا يو رقم زهر توليدوي.
کبې پوښتنه وکړه: تا پخوا ليدلی و؟
مونوک ځواب ورکړ: نه. ما په بيالوژي کي لوستي دي. اوس به وايې چي بيالوژي يې لا څه بلا ده. هاهاها. زه به يې درته ووايم. بيالوژي د ژونديو موجوداتو علم دی. مورږ په مکتب کي بيالوژي هم لوستله. زما د خوښي مضمون و، ځکه چي ډېر جالب معلومات په کي وو.
د دوی صندوق ته مخامخ يو بل ژوی و. شبېه په شبېه يې رنګ بدلېده. يو وار به ژېړ شو، بيا نارنجي، بيا به سور شو، بيا نسواري. لکه رنګه څرغونه چي د ځينو دوکانونو مخي ته لګول شوي وي. کبې ته يې ډېر خوند ورکړی و. په ځير يې ورته کتل. په دې وخت کي يو ناڅاپه د هغه صندوق د اوبو رنګ تور واوښت. داسي تياره شوه لکه سپوږمۍ چي تندر ونيسي. تاسو کله د سپوږمۍ تندر نيول ليدلي دي؟ کله چي د ځمکي سيوری پر سپوږمۍ ولوېږي، د سپوږمۍ رڼا ورکېږي او آسمان تپه تياره شي. د صندوق د اوبو رنګ هم د توري شپې غوندې شو.
مونوک وويل: رنګ شيندونکی کب سخت هوښيار ژوی دی. کله چي خطر ورته پېښ شي، په اوبو کي تور رنګ خوشي کوي. د اوبو رنګ چي تور شي، بيا ښوک دوی نه شي ليدلی. اوس د هاغه ځنګ صندوق لوی کب د دوی د صندوق ديوال ته نژدې شو. ځکه خو رنګ شيندونکي په اوبو کي تور رنګ وشيندل. دوی همداسي له خطرونو ځخه ځان ساتي.
کبې وويل: دوی خو په رښتيا هم ځيرک دي. ښايسته هم دي. رنګ په رنګ اوړي؛ نو ته څه وايې چي دوی به غوره مخلوقات نه وي؟
مونوک وويل: امممممم. زه به څه ووايم. که ته تر دوی هوښيار ژوي ووينې، نو بيا به څه وايې؟ زه په دې پوهېږم چي ښوک غوره دي؛ خو درته وايم يې نه. ته بايد پخپله د دې پوښتني ځواب پيدا کړې.

يوه ښايستوکي پاک سوتره هلک د مرتبان لوی مرتبان ښيښه په نوک وټکوله، ټنګ، ټنګ، ټنګ. دا غږ د کبې له پاره دومره تيز و، لکه د بم د چاودني آواز. کبې ووېرېده، په منډه د مرتبان بل سر ته ولاړه. د ماشوم غږ يې واورېد: سلام! مه وېرېږه. زه وم. راځه چي سره ملګري شو.
کبې ورو ورو د مرتبان ديوال ته رانژدې شو. ماشوم وويل: زما نوم ځيرک دی.
بيا يې لاسونه سره وپړکول، ويې ويل: ځيـ - او له بلي پړکا سره يې وويل: - رک. زما نوم دوه ځپي لري. ستا نوم څه دی؟
کبې له ځانه سره فکر وکړ چي ځپي خو د اوبو جوپي ته وايي نو ځيرک ځنګه وايي چي نوم مي دوه ځپي دی. کبې نه پوهېده چي انسانان يوه کلمه په څو معناوو استعمالوي. ځپه د سيند او سمندر د اوبو جوپي ته هم وايي او هغه آوازونو ته هم چي د ساه په يوه وار بنديدو سره له خولي وځي.
ځيرک بيا پوښتنه وکړه: ښه نو ستا نوم څه دی؟
کبې ځواب ورکړ: زما نوم کبې دی. زه يې له يوې ويالي څخه راوړې يم.
ځيرک بيا وپوښتل: هله نو! نوم دې راته وښيه.
کبې بيا وويل: نوم مي کبې دی.
ځيرک وويل: خوله دې ښوري خو غږ دې نه راځي. خير دی زه به دې ماهي وبولم، ما – هي.
کبې پوهه شوه چي ځيرک د ده آواز نه شي اورېدلی.
وروسته ځيرک بيا وويل: نه. ماهي خو ټولو کبانو ته ويل کېږي، لکه موږ ټولو انسانانو ته چي انسان وايي خو بيا هر يو خپل خپل نومونه لرو. نو زه به تا سپينوکه وبولم ځکه چي له رنګه سپين يې: سپيـ - نو – که، درې ځپي کېږي.
کبې له ځانه سره وويل: دی مي غږ نه اوري خو هوښيار هلک دی. دومره خو پوهېږي چي زه نجلۍ يم او ښځينه نوم يې راباندې کېښود، سپينوکه، سپيـ - نو – که. بد نوم خو نه دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د ځيرک غږ يې واورېد چې ويل يې: نه. سپينوکه درې ځپې دي، زما نوم دوه ځپې. زه به داسي نوم دربانديږ کېږدم چې دوه ځپې وي لکه ځيرک، ځيـ - رک. بايد نومونه مو سره برابر شي څکه چې ملګري بايد سره برابر وي. ښه نو! ته ودرېږه. امممممم، پيدا مې کړ. ستا نوم سپينک شو، سپيـ - نک.
کبۍ وخندل، ويې ويل: هی هی! ځيرکه ګله، تا خو ښېرته هلک کړم.
ځيرک د مکتب له بکسه تور توش راواخيست، د مرتبان پر دېوال يې وليکل: سپينک.
په دې وخت کې د ځيرک پلار راغی. ښکلي توره دريشي يې په تن کړې وه، سپين کميس او سره نيکټايي. د ځيرک پلار د يوه قوطي سره خلاص کړ. په مرتبان کې يې د ماهيانو د خوراک وړې داني واچولې. ځيرک ته يې وويل: خوښه دې شوه؟
ځيرک وويل: دا نجلۍ ده؟ هو، خوښه مې شوه. ډېره ښکلې ده، سپينه لکه سپين زر. وی! ما خو ورباندې سپينک نوم ايښی دی نو ښېرته به يې سپينوکه وبولم.
په يوه دسمال يې د مرتبان له دېواله د «سپينک» کلمه ړنګه کړه. پر ځای يې وليکل: «سپينوکه».
پلار يې وويل: سپينوکه ښکلی نوم دی. خدای دې وکړي چې د دانيول هم خوښ شي.
ځيرک په حيرانۍ پلار ته وکتل.
پلار يې وويل: دانيول البولينياتوس د دې کب علمي نوم دی. موږ هر ژوي ته يو عام نوم لرو او بل علمي نوم.
ځيرک وويل: زه به يې همدا سپينوکه بولم. دا علمي نوم يې ډېر اوږد دی.
پلار وويل: سمه ده. زه او ته به يې سپينوکه بولو. ښه نو زه وظيفې ته ځم. د خدای پامان. ښه ورځ ولرې.
ځيرک پلار ته لاس وښوراوه، ويې ويل: ستا ورځ دې هم په خير وي پلار جانه او بيا هم مننه چې دا ښکلې سپينوکه دې راته راوړه.
ځيرک توش قلم ښېرته په بکس کې کېښود. کبۍ ته يې وويل: زما سپينوکې! زه اوس مکتب ته ځم. چې ښېرته راغلم، بيا به کيسې کوو. بای بای.
ځيرک مکتب ته ولاړ او کبۍ چې اوس يې نوم سپينوکه دی، يوازې پاتې شوه. شا و خوا ته يې په ځير وکتل. مخامخ لويه کړکۍ د حويلۍ چمن ته خلاصه وه. د لمر زرينو وړانګو کوټه رڼا کړې وه. کبۍ په يوه لوی مرتبان کې و. د کوټې په يوه کونج کې د ځيرک کټ پروت و. د سپينو لرګيو ښکلی کټ چې د ډايناسور، کبانو، او الوتونکو رسمونه پرې ايستل شوي وو. د کټ په څنګ کې د کتابونو دېوالي الماری وه. په الماری کې د کيسو رنګه کتابونه او د حيواناتو په باره کې کتابونه ايښي وو. د دې الماری په څنګ کې بله الماری د ځيرک د جامو وه چې پر دړه يې يوه ښايسته هينداره لګېدلې وه. د کړکۍ خوا ته يو ميز او څوکۍ، د ميز پر سر کمپيوټر او څو کوچني کتابونه ايښي وو. د کوټې دېوالونه نيلي رنګ شوي وو، داسې نيلي لکه د سمندر د اوبو رنګ. د دېوالونو پر مخ د ډولفين او څو ډوله کبانو رسمونه ايستل شوي وو. کبۍ ته کوټې خوند ورکړ. په چت پورې د څراغونو يو قنديل ځړېدلی و. کبۍ ته هغه جيلي کب ورياد شو چې خلک يې د اوبو قنديلونه هم بولي او دې په لابراتوار کې ليدلي وو.
کبۍ د شا و خوا په ننداري دومره بوخت و چې د وخت په تېرېدو بيخي پوه نه شوه. يو وخت يې وليدل چې ور خلاص شو او د ځيرک سر ښکاره شو. ځيرک اول د مرتبان خوا ته راغی. سلام يې وکړ خو موسکی نه شو. بيا د جامو الماری ته ودرېد. د مکتب کالي يې وايستل او په کوټ بند کې واچول. له بل کوټبند څخه يې سپين کميس پرتوګ راواخيست او وا يې غوستل. له کوټې ووت. څو شيبه وروسته ښېرته راغی، مخ، لاسونه او پښې يې پاکې پرېمينځلې وې.
کبۍ د مرتبان له دېوال سره ولاړه او ځيرک ته منتظره وه. زړه يې غوښتل چې ځيرک ورته خبرې وکړي. ځيرک چوکۍ پورته کړه او د مرتبان مخې ته يې کېښوده. پرې کېناست. زنه يې پر لاسونو تکيه کړه. شونډې يې ځړېدلې وې، خپه غونډې و. ويې ويل: زما سپينوکې! پوهېږې، نن استاد له صنفه وايستم. هغه ويل چې انسان تر ټولو مخلوقاتو غوره دی، اشرف المخلوقات دی. استاد ويل چې انسان څکه غوره دی چې عقل لري او خدای پاک يوازې انسان ته عقل ورکړی دی او انسان يې خپل خليفه ټاکلی دی.
ما ورته وويل چې استاده! که انسان عقلمن دی نو ولې يو بل وژني. هره ورځ جګړه وي، چاودني وي، بمونه وي، مرمۍ وي چې انسانان وژني. څوک چې عقل ولري، همداسې کوي؟
کبۍ په زړه کې وويل: اوه! دا غريب هم زما په شان غواړي چې حقيقت پيدا کړي. ما باندې خو ډېرې کاني وشوې خو خدای دې ده ته خير کړي.
ځيرک د کبۍ په څېره کې خواخوږي وليده. خپله خبره يې وغځوله: بيا استاد وويل چې دا خو د شيطان کار دی، شيطان انسان غولوي.
دا اول ځل و چې کبۍ د شيطان نوم اورېده. حيرانه وه چې دا به څه بلا وي.
ځيرک وويل: ما له استاد نه پوښتنه وکړه چې که انسان عقل لري نو ولې د شيطان مني؟
استاد وويل: شيطان زورور دی، چالاکه دی، انسان خطا باسي.
ما بيا وپوښتل: شيطان زورور دی که خدای؟

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

استاد په توونده ژبه ځواب راکړ: دا نو پوښتنه ده چې ته يې کوې؟ ته نه پوهېږې چې خدای هر څه کولی شي او تر هر چا بر دی؟
ما وويل: استاده! دا خو منم؛ خو زه پوه نه شوم چې انسان د خدای خليفه دی که د شيطان؟
زما ټولګيوالو کټ کټ وخندل. استاد هم غوسه شو. زه يې له غوږه ونيولم. په څټ يې په څپېړه ووهلم. له صنفه يې وشړلم او راته ويې ويل چې ځه د شيطان بچيه! ستا پلار به شيطان خليفه وي.
کبی ورته خپه شوه. د مينوک خبرې يې ورياد‌ې شوې چې ويل يې: «انسانان ډېر هوښيار دي. دوی د سمندر تل ته او د آسمان هسکو ته تلی شي. دوی په ډېرو شيانو پوهېږي. لرې لرې ستورې پېژني، ډول ډول کبان پېژني. دوی شپه ورځ لګيا وي، نوي کتابونه ليکلي، نوې مطالعې کوې ...»
خو اوس ځيرک وايي چې انسانان يو بل سره وژني. دا خو د هوښيارانو کار نه دی. کبی حيرانه وه چې استاد ولې ځيرک له صنفه ايستلی او بده خو لا دا چې په څپېړه يې وهلی دی. هوښيار کس نو ماشوم په څپېړه وهي؟ کبی دې ته چورت وړی وه چې استاد ولې د ځيرک پوښتنې ته ځواب ور نه کړ.
کبی ځيرک ته وکتل چې لا هم لاس تر زنې ناست و. له ځانه سره يې وويل: تر دوی خو کبان ښه دي. کبان خو وهل ټکول نه کوي. مينوک خو به ويل چې معلمان يې ډېر مهربانه وو.
کبی فکر وکړ چې څنګه د ځيرک خپګان لرې کولی شي. ناڅاپه يې شا ته ټوپ کړ. په اوبو کې کړه وړه کښته ولاړه، بېرته پورته راغله، يوې بلې خوا ته داسې ښکلې تاو راتاوه شوه چې ته وا نڅا کوي. هغې په رښتيا هم نڅا کوله. نڅا يې له مور و پلاره زده کړې وه.
ځيرک په خوشحالی ورته کتل. خوله يې موسکه وه او لاسونه يې ورته پړکول. ويې ويل: آفرين زما سپينوکې! ته ښه نڅېږې.
بيا يې د لاس رغوی پر مرتبان کېښود. کبی راغله، د مرتبان د دېوال له هاغه غاړې يې د ځيرک پر لاس خوله کېښوده.
ځيرک په خندا شو، ويې ويل: اوه! زما ګرانې سپينوکې، زما لاس دې مچو کړ؟ ته څومره شيرينه يې.
ځيرک هم د مرتبان مخې ته په نڅا پيل وکړ او دا سندره يې وويله:

ته څومره شيرينه يې	سپينه نازنينه يې
سپينه يې سپينوکه يې	ښکلې سر تر نوکه يې
څومره ښه نڅا کوې	زړه مې دلاسا کوې
ښکلې ښايستوکه يې	سپينه يې سپينوکه يې

په دې وخت کې د ځيرک مور د کوټې ور خلاص کړ. ويې ويل: ځيرکه زويه! څومره ښکلې سندره دې ورته جوړه کړې ده. راځه چې ډوډی وخورو.
ځيرک وويل: مورې! زه به مې ډوډی همدلته وخورم. څه دې پاخه کړي دي؟
مخکې له دې چې مور يې ځواب ورکړي، ځيرک وويل: اوه! پوه شوم. ماهيان دې سره کړي دي. څومره خوږ بوی يې راغی.
مور يې وويل: ښه نو! ستا برخه همدلته راوړم؟
ځيرک لږ فکر وکړ، بيا يې وويل: نه. سپينوکه به مې خپه شي. وايي به چې دوی زموږ غوښه خوري.
ځيرک کبی ته لاس وښوراوه، ويې ويل: ګرانې! زه بېرته راځم.
کبی له ځانه سر فکر وکړ چې ځيرک څومره ګلالی ماشوم دی. هغه نه غواړي چې ما خپه کړي. هغه رښتينی ملګری دی.
کبی ته چونګی ورياد شو. هغه يې هم ښه ملګری و. له ځان سره يې وويل: که چونګی دلته وای او د ځيرک سندره يې اورېدلې وای، ويل به يې چې دی څومره په سُر سندره وايي. هاهاها. بيا به يې په همدې طرز کې خپله سندره ورسره ويله چې:

کورره کوررره کوررره کور	کوررره کوررره کوررره کور

کبی په همدې چورتونو کې وه چې ځيرک بېرته راغی. ويې ويل: زما سپينوکې! ته مه خپه کېږه. موږ د کبانو غوښه خورو. وايو چې مغزو ته ګټه لري او حافظه پياوړې کوي. پوهېږئ! موږ انسانان عجيبه خېل هر کار ته يو دليل جوړوو. عجيبه عادتونه لرو. ټول انسانان يو رقم نه دي. وګوره، دا موږ چې يو د غوا غوښه خورو، خو هندوان يې نه خوري. موږ چې د سپي غوښه راياده کړو، خوا مو ګرځي خو د چين او تايلند خلک يې په خوند خوند خوري.
اوهو! ښه چې راياد مې شول. زه به مې غاښونه پرې مينځم.
کبی حيرانه وه چې هندو څه معنا؟ د چين او تايلند خلک څوک دي؟
څو شېبې وروسته ځيرک له تشنابه بېرته راغی. د هېنداره مخې ته ودرېد. خوله يې خلاصه کړه او غاښونه يې په کې وکتل. غاښونه يې تک سپين ځليدل.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځیرک د سپینوکي خوا ته راغی، ویې ویل: ته څومره بختوره یې چې غاښونه دې نشته او د غاښ په درد نه پوهېږې. ډېر سخت درد یې وي.
کبې کټ کټ وخندل خو ځیرک یې د خندا غږ وا نهورېد.
ځیرک وویل: پروسږ کال مې یوه ورځ ډوډۍ خوړله. چې دا اوله کوله مې خولې ته کړه، غاښ مې په درد شو. منځ یې سوری شوی و او ډوډۍ په کې تللې وه. دومره سخت درد یې کاوه چې په ژړا یې کړم.
بیا مې پلار د غاښو ډاکتر ته بوتلم. پوهېږئ! کله کله په کتابونو کې هم غلطې خبرې وي. ما د مکتب په کتاب کې لوستي وو چې هر سهار باید غاښونه په برس او کریم پرې مینځو. ما به همداسې کول خو غاښ مې خراب شو. ډاکتر بیا راته وویل چې ته چې د شپې ډوډۍ خورې، وړې ټوټې یې د غاښونو تر منځ پاتې کېږي او که و نه مینځل شي، تر سهاره خوسا کېږي. همدا وي چې غاښونه خراب شي. زه د ډاکتر له خبرو پوه شوم چې د کتابونو هره خبره هم باید و نه منو. اوس له هر وخت خوړو وروسته غاښونه مینځم. ښه ګرانې سپینوکۍ! زه به مې کورنی دنده ولیکم. د پښتو معلمې راته ویلي دي چې د ملګرتیا په اړه کیسه ولیکم. سمه ده؟
سپینوکۍ خپل شهپرونه وخوځول.
ځیرک له بکسه کتابچه او قلمونه راوایستل. د کړکۍ خوا ته مېز ته کېناست او په لیکل یې پیل وکړ. څو کلمې به یې ولیکلې، بیا به یې سپینوکي ته وکتل.
ځیرک چې سبا له مکتبه راغی، خوله یې له خندا ډکه وه. مخکې له دې چې د مکتب کالي وباسي، د سپینوکي مخې ته ودرېد. د چپ لاس ښت یې ورته ونیو، ویې ویل: زما ګرانې سپینوکې! دې ته وګوره.
د ځیرک پر لاس په سره قلم یو ستوری رسم شوی و. ځیرک وویل: پوهېږې! د پښتو معلمې نن ډېر ونازولم. آفرین یې راته وویل او دا ټول ستا په وجه. ته ودرېږه چې زه مې مقاله درته ولولم.
بکس یې له اوږې څخه کښته کړ. یوه کتابچه یې ترې وایسته. په لوستلو یې پیل وکړ:
ملګرتیا
نن چې له مکتبه راغلم، خپه وم. استاد له صنفه شړلی او په څپېړه یې وهلی وم. سپینوکي ته مې کیسه وکړه. سپینوکه زما ماهي ملګرې ده. ما چې ورته کیسه وکړه، دا پوهه شوه چې زه خپه یم. نو یو دم یې د سرکس د لوبغاړو په شان لوبه پیل کړه. شا ته یې ټوپ وکړ، به اوبو کې کړه وړه کښته لاړه، پورته راغله، دې خوا لاړه ها خوا لاړه، شهپرونه یې د نڅه په ښه ښورول او لکۍ یې هم. سپینوکي په خپلو کارونو زما خپګان لرې کړ. سپینوکه تکه سپینه ده او زړه یې هم د رنګه په شان ښکلی دی. ښه ملګري خپل ملګری غم ته نه پرېږدي.
سپینوکه د ځیرک مقالې ته په ځیر غوږ وه. ډېره خوښه یې شوه. شهپرونه یې د چکچکې په ښه سره وجنګول خو د چکچکو غږ د وره له خوا راغی. سپینوکي او ځیرک دواړو د وره خوا ته وکتل. د ځیرک مور غلې ولاړه وه او د ځیرک خبرې یې اورېدلې وې. هغې ځیرک ته چکچکې کولې او همداسې مخته راغله. د ځیرک پر سر یې لاس ورتېر کړ، ویې ویل: آفرین! ځیرکه زویه. څومره ښکلې مقاله دې لیکلې ده. ته څومره ژر له خپلې ماهۍ سره ملګری شوې. شاباس زویه.

یو وخت یې پام شو چې نور نو د سیند دیوالونه نه ښکارېږي او چې هرې خوا ته ځي، اوبه دي، اوبه دي، اوبه دي. نور نو اوبه د سیند په شان چټکې نه بهېدې. اوبه ولاړې غونډې ښکارېدې. کبې هاخوا دېخوا حیرانه ګرځېده. د اوبو سر ته لاړه چې وګوري پاس څه خبرې دي. چارچاپېره اوبه وې. وچه بیخي نه ښکارېده. یو ناڅاپه د اوبو یوه څپه راغله، کبې یې پورې ووهله. کبې له خپله ځایه ډېره لرې وغورځېده او تر اوبو لاندې شوه.
څو شېبې وروسته بېرته او اوبو سر ته راغله. یو لوی شی یې ولید، ډېر لوی، بیخي ډېر لوی. دومره لوی چې د سیند لوی کبان د هغه تر خولې هم واړه وو. هر شاهپر یې د لویو کبانو د سلو شاهپرونو په اندازه.
دغه لوی شی د کبې څنګ ته ورسېد. کبې پوښتنه وکړه: ته څوک یې؟ دا کوم ځای دی؟
هغه وویل: زه ډولفین یم. دا سمندر دی.
کبې بیا پوښتنه وکړه: سمندر؟ سمندر څه شی دی؟
ډولفین ځواب ورکړ: همدا سمندر دی کنه. د ټولو سیندونو اوبه سمندر ته راتوییږي. ته لکه چې له بل ځایه راغلې یې؟
کبې ورته خپله کیسه وکړه چې څنګه له ویالې څخه سیند ته راغله او بیا سمندر ته ورسېده. دا یې هم وویل چې غواړي پوه شي چې په رښتیا سره څوک غوره دي؟
ډولفین غاړه هسکه کړه، ویې ویل: دا خو معلوماره خبره ده چې زه غوره یم. زه هوښیار یم. ته وګوره، دا سمندر څومره لوی دی خو زه په کې خپله لاره پیدا کولای شم. چې هرې خوا ته لاړ شم، بېرته خپل کور ته تلای شم. زه له خولې نه یو ډول غږ راباسم. غږ مې تر ډېره لرې ځایه ځي. په هر شي چې ولګېږي، بېرته راګرځي. زه بیا د خپل غږ انګازه احساسوم او پوهېږم چې کبان رانه څومره لرې دي، نهنګ چېرته دی، نور ډولفینان کومې خوا ته روان دي. نو زه غوره یم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دي وخت کي شړپ شو. اوبه په منځ کي ېېلي شوې. یو بل لوی تور شی راپیدا شو. د اوبو له لاندې یې سر اوچت کړ. دا نو تر ډولفین هم لوی و. لویه خوله یې وه، ډېره لویه، بیخي ډېره لویه. په خوله کي یې ډېر غاښونه وو، بیخي ډېر غاښونه.
ډولفین د هغه په لیدو په اوبو کي غوټه ووهله او د سترګو په رپ کي ورک شو.
کبی له دغه لوی شي پوښتنه وکړه: ستا نوم څه دی؟
هغه وویل: نوم مي نهنګ دی. شارک نهنګ. ډېر تېره غاښونه لرم. هاهاهاها
کبی بیا پوښتنه وکړه: په دې سمندر کي څوک تر ټولو غوره دی؟
نهنګ وویل: ته پخپله وګوره. غوره هغه څوک وي چي لوی وي او چي زورور وي.
کبی وویل: ډولفین ویل چي زه غوره یم ځکه چي هوښیار یم.
نهنګ وخندل: هاهاهاها. که ډولفین غوره دی نو ولي له ما ډارېږي؟ غوره زه یم ځکه چي زورور یم.
ناڅاپه نهنګ په تېښته شو.
کبی پوښتنه وکړه: ولي تښتي؟
نهنګ وویل: شا ته دي وګوره، بېړی دي بېړی. غواړي ما ونیسي.
کبی حیرانه وه چي د چا خبره ومني. هغه چي ښکلی و، بې ادبه و. هغه چي غټ و، په جال کي بند پاتي کېده. هغه چي هوښیار و، له نهنګه ډارېده. نهنګ چي زورور و او تېره غاښونه یې وو، له ښکارچیانو ډارېده. کبی په سمندر کي ډېر وخت پاتي شوه. ډېره وګرځېده. بیخي ډېره.
په سمندر کي یې ډول ډول کبان ولیدل. رنګ رنګ ژوي یې ولیدل. لوی، واړه. سپین، سره، شنه، زېړ، نارنجي، ګلابي ... سمندري ستوري، جیلي کبان، سمندري آسونه، سمندري زمریان، سګ لاهوګان، سمندري کیشپان، تمساح ګاني، او بیخي ډېر ژوي. لس ډوله نه، سل ډوله نه، زر ډوله نه، بیخي ډېر ډولونه ژوي یې ولیدل.
هر چا ته ځان تر نورو ښه ښکارېده. هر چا ویل چي پخپله غوره دی. یوه به ویل چي «زه غوره یم ځکه چي ښکلی یم»، بل به ویل چي «زه غوره یم ځکه چي زورور یم.» بل به ویل چي «زه غوره یم ځکه چي هوښیار یم.»، بل به ویل چي «زه غوره یم ځکه چي لوی یم» ...
خو کبی په اخر کي د خپلي پوښتني ځواب پیدا کړی و. له ډېري مودې وروسته بېرته سیند ته راستنه شوه، بیا ویالي ته لاړه. د ویالي بر سر ته لاړه، خپل کور ته ورسېده. خویندو او ورونو یې په خوشحالی سره ناري وکړې: پلاره! وه پلاره! کبی راغله.
پلار یې بوډا شوی و. د تېرو په منځ کي پروت و. په سختی سره یې سر راپورته کړ. کبی یې په غېږ کي ونیوله.
ټولو پوښتنه وکړه چي: وه کبی ګلې! دا دومره وخت ته چېرته وې؟
کبی د سیند او سمندر کیسي ورته وکړې. ټولو ورته غوږ نیولی و. خویندو او ورونو یې د هر شي په اړه پوښتني کولي او کبی ورته ځوابونه ویل.
کبی دا هم ورته وویل چي هر چا ځان غوره باله. هر چا ته ځان تر نورو ښه ښکارېده.
پلار یې پوښتنه وکړه: نو، ته څه فکر کوې؟ تا خو دنیا ولیده، هر رقم ژوي دې ولیدل، اوس نو ته ووایه چي څوک په رښتیا غوره دي؟
کبی وویل: د دې پوښتني په ځواب دوه کسان پوهېږي. یو زه، بل هغه کس چي همدا اوس دا کیسه لولي.

اوهووووو! دا کیسه خو همدا اوس ته لولې. کبی وایي چي ته پوهېږې چي په ټوله دنیا کي څوک غوره دي.
ښه نو راته ووایه چي څوک غوره دي؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ